دمطبوعاتي اعلاميه

کابل، ۱۳۸۹د دلوې ۹مه

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسيون د دلوې د اتمې په ځانمرګي برید کې د خپلې تکړه او هڅاندې همکارې او د کمېسيون غړې میرمن حمیده برمکي او دهغې د کورنۍ د غړو د شهادت له امله د هغې د کورنۍ پاتي کسانو، د بشري حقونو فعالانو او د افغانستان خلکو ته تسلیت وړاندې کوي. میرمن برمکي د خپلې کورنۍ د پنځو غړو سره د دلوې دمیاشتې په اتمه په ځانمرګي برید کې شهیده شوه. کمېسيون په ډېره شدیده توګه ددغه برید دغندني ترڅنګ دغه ناوړه ترهګر برید یو ناانساني او نااسلامي عمل ګڼي چې په عین حال کې دا د انسانیت پر ضد یو جنایت او د نړیوالو بشردوستانه قوانینو څخه یوه ښکاره سرغړونه بولي.
دافغانستان د بشري حقونو د خپلواك کمېسيون غړې اودکابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي استادې میرمن حمیدې برمکي د بشري حقونو د خپراوي او ټینګښت د هڅو ترڅنګ په هیواد کې د سولې او عدالت هیله درلوده.
هغې په ځانګړې ډول د ماشومانو د ملاتړ او پراختیا په برخه کې کار کاوه چې د افغان ماشومانو راتلوونکي ته ډېره اندیښمنه وه. هغې د بشري حقونو د یوې فعالې په توګه پر خپل کار باور درلود چې د بشري حقونو دمعیارونو د ملاتړ او خپراوي په برخه کې یې څرګندې او روښانه کارنامې پرېښودې.
دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسيون د هغې کورنۍ او همکارانو ته د جمیل صبر غوښتنه کوي او دهغې یاد به ژوندی ساتي. ارواح یې ښاده!

دافغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسيون
کابل/مرکزي دفتر